د کډوالۍ مسایل او APS
هغو پالیسیو او پروسېجرونو ته یوه کتنه چې زموږ د زده کوونکو د حقونو د خوندي کولو لپاره تعیین شوي دي.

وروستیو څرګندونو په ملي کچه ډېري پوښتنې را پورته کړې دي چې د البوکرکي عامه ښوونځي (Albuquerque Public Schools, APS) د کډوالۍ اړوند مسایلو ته څنګه رسیدګي کوي. دا خورا سخت وخت دی، مګر موږ غواړو چې تر هر څه د مخه پر لاندې مواردو پوه شئ: کله چې زده کوونکي په ښوونځي کې وي، موږ د هغوی ټولو د خوندیتوب او هوسایني د ساتلو مسوولیت پر غاړه لرو او دا هغه کار دی چې موږ یې خورا جدي ګڼو.

دلته ځیني مهم مسایل دی چې د موضوع په تړاو باید پرې پوه شو:

- APS پر دې باور دی چې هر زده کوونکی د دې مستحق دی چې د زده کړې لپاره خوندي او ملاتړ کوونکی چاپېریال ولري.
- د JL2 پالیسي په دې برخه کې او د زده کوونکي د خوندیتوب د نورو مسایلو په تړاو زموږ اقداماتو رهبري کوي. په پالیسي کې راغلي چې "د کډوالۍ چارواکي په هېڅ وخت کې نباید د ښوونځي په محوطه کې موجود وي."
- روندي لارښود PJ35 څرګندوي چې "د کډوالۍ د چارواکو یا د قانون د پلي کولو د سیمه ییزو چارواکو له لوري د ناحیې کارکوونکو ته هر راز حکم چې زده کوونکی باید د هغه/ هغې د کډوالۍ وضعیت په اړه څېړنو ته حاضر کړي یا د زده کوونکي په اړه داسې معلومات غواړي چې زده کوونکي د تابعیت یا د کډوالۍ د وضعیت په اړه معلومات په ډاګه کوي، باید رد شي او سمدلاسه د ښوونځي مدیر او د APS پولیسو ته راجع کړای شي."
- باید په یاد ولرو چې اقدام کېدای شي د حقوقي سلاکار او سرپرست د ښکېل کېدو لامل شي.
- APS د زده کوونکي د کډوالۍ د وضعیت په تړاو معلومات نه راټولوي او نه یې ساتي.
- ناحیې روزنې په لار اچولې دي تر څو مشخص اصول جوړ کړي او کارکوونکي له دې پروتکلونو څخه خبر دي او پوهېږي چې دا تعقیبېږي.
- نه د نیومکسیکو ایالت اساسي قانون او نه ایالتي قانون د ښوونځي د عمر ماشومانو لپاره دولتي ښوونځي ته د تللو لپاره تابعیت د یوې اړتیا په توګه په ګوته کوي.
- د متحده ایالاتو سترې محکمې حکم صادر کړی دی چې د تابعیت حالت په دولتي ښوونځیو کې د ښوونځي د عمر ماشومانو د نوم لیکنې د ردولو لپاره نشي کارول کېدای.
- د APS ښوونځي نشي کولای د ښوونځي په عمر ماشومانو (تر 21 کلنۍ پورې) نوم لیکنه د هغوی د غیرمستند معلوم یا مشکوک وضعیت له امله رد کړي، یا په داسې اقدام کې دخیل شي چې زده کوونکی دولتي ښوونځي ته له تګ څخه منع کړي یا هغه ناهیلی کړي.